# چترال د امنیتي ځواکونو بریالي عملیات دوه خوارج جهنم ته ولیږل شول او لس زخمیان شوي

د چترال په ارسون سره په ملحقه سیمه کې د پاک افغان پولې سره نږدې د خفیه اطلاعاتو په اساس د سکیورټي فورسز لخوا کامیاب عملیات ترسره شوي دي ـ د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر وژل شوي او لس سخت ژوبل شوي دي ـ



**د تفصیلاتو له مخې، امنیتي ځواکونو د ترهګرو نقل او حرکت په وخت وپیژندل او هغه مهال یې په نښه کړل کله چې دوی د امنیتي ځواکونو په وړاندې د عملیاتو لپاره راټول شوي وو ـ د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر ځای پر ځای ووژل شول او 10 تنه سخت ټپیان شول، چې په ترڅ کې یې ټول امنیتي کسان خوندي پاتې دی ـ**

**وژل شوي ترهګر د افغانستان د بزګل (کنړ) او ګودریش (نورستان) سره تړاو لري ـ**

په پاکستان کې په ترهګریزو فعالیتونو کې د افغان اتباعو لاس لرل د افغانستان د موقت حکومت پر ادعاوو د پوښتنې راپورته کوي.

امنیتي ځواکونه به دغو ترهګرو ته اجازه ورنکړي چې د چترال امن ګډوډ کړي او د دوی د له منځه وړلو لپاره به ټول وسائل په کار واچوي ـ